**اصل مضمون تائید: ۹۸/۷** **د ماشومانو د حقوقو د ساتني كلتور ژوندى كول**

**لومړی برخه: اصلاح نهايي گرديد: فولدرمضامين چاپ شده برج حمل۱۳۹۸** **شيخ فريد الله ازهری**

الحمد لله الذي قال في كتابه: ﴿ وَٱللَّهُ أَخۡرَجَكُم مِّنۢ بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴾ النحل: ۷۸ والصلاة والسلام على نبيه الذي (كان يزورالأنصار، ويسلم على صبيانهم، ويمسح رؤوسهم ).«۱» و آله وأصحابه أجمعين. و بعد:

د موږ په ټولنه کې په ځینو سیمو هیواد کې د کوچنیانو د حقوقو ضايع کيږي يا په بل عبارت سره د ماشومانو حقوقو ته پاملرنه نه کيږي نو اړينه بولم چې د ماشومانو يعنې د هغو چاچې دمکړی هغوی ضعيف اوناتوانه او مرستې ته ضرورت لري ليکن د راتلونکی او مستقبل څو انان، مشران او مسؤولين بلل کيږي د اهل او عيال د مسئوليت په هکله الله پاک جل جلاه فرمايي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارٗا ﴾ التحريم: ۶ ای مومنانو: ځان او خپل اهل د دوزخ له اوره وژغورئ.

نو ډېر اړين يې بولم چې د ماشومانو حقوقو په هکله په تفصيل سره خبره وکړم تر څو د ټولنې دغو يې وسه او مظلوم قشرته توجه وشي او له دغو ناخوالو، د هرلوری له پلوه په جنگ جگړو کې شريک کړی شوي او په شاقه کارونوکې له دوی څخه کټه اخستل کړی شوی په ځينو حالاتو کې د دوی متوليانو له خوا د دنيايي کمې مادي کټې لپاره مهاجرت او سفرته مجبورکړی شوی چې ډېرېې په بحرونوکې د کبانو قرباني شول نو راځئ د دغه مظلومانو حقوقو ته په تفصيل سره غوږ شو او په خپل ژوند کې د دوی حقوقو ته جدی پاملرنه وکړو:

**د ماشومانو لومړی حق د نیک مور او پلار درلودل:**

د واده کولو څخه مقصد يوازې د جنسی غريزې اشباع کول نه دي بلکې عمده هدف يې د بشري کورنۍ تشکيل دی چې يوازې د نيکو او صالحو کورنيو مرهون دی چې ايمان، اخلاق او سالمه تربيه کنترولوی.

گوروچې په حديث شريف کې د ديندارہ ميرمنی د اختيارپه هکله ټينکارشويدی او روايت دی: « عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ – رضي الله عنه – عَنِ النَّبِيِّ . صلى الله عليه وسلم . قَالَ تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ ».«۲» دابی هريرهﷺ څخه روايت دی چې رسول الله وفرمايل: ښځه د څلورصفاتوله کبله په نکاح سره غوره کيږي د مال، نسب، ښايستوالي او دين له وجهې څخه نو خپله نيکمرغی د ديندارې ميرمنې په اختيارکې ولټوئ (لاسونه دی په خاورولړلي سه).

او همدا راز د مسلمان خاوند په اختيارکې نبي کريمﷺ فرمايي: « عن أبي هريرة قال: – قال رسول الله صلى الله عليه و سلم إذا أتاكم من ترضون خلقه ودينه فزوجوه. إلا تفعلوا تكن فتنة في الأرض وفساد عريض ».«۳» کله چې تاسی ته مرکه راشی نو که چيرې هغه شخص ديندار او د نيکو اخلاقو خاوند وی هغه ومنی که نه نو داسې کار(د ديندارشخص رد کول او د فاسق شخص اختيارول) به په ټولنه کې د لويې فتنې او فساد باعث وگرځی. بله دا چې د والدينو اخلاق او شخصيت پرماشومانو مهمه اغيزه لري. که چيرې والدين نيک افراد وی نو اولادونه يې هم نيک تربيه کيږی او که چيرې والدين نيک خلک نه وی نو اولادونه به يې هم ناسالمه او بې تربيه وی. په تيره بيا چې مورد ماشوم لپاره د لومړنی مدرسې حيثيت لری. سالک و ايې:

الأم مدرسة إذا أعدت أعدت شعباً طيب الأعراق

مورښه مدرسه ده که چيرې روزل شوی وي نو ډېرغوره ملت به ټولنې ته وړاندې کړي

**دوه هم حق د نسب دی:**

کله چې انسان دنيا ته راځی د ضعف او بې وسی په حالت کې وي او محتاج وي ترڅو يې څوک وروزی، په غيږکې يې ونيسی او شفقت او مهرباني ورسره وشی ترڅو پخپلو پښو ودريږي دلته دی چې د اللهﷻ د نسب رابطه چې د هغه د مور او پلار ترمنځ پيوند دی برقراره گرځولی او د هغې ترسيورۍ لاندې ماشوم د هر ډول عنايت او حقوقو څخه برخه من کيږی. په دې هلکه اللهﷻ فرمايي: ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ مِنَ ٱلۡمَآءِ بَشَرٗا فَجَعَلَهُۥ نَسَبٗا وَصِهۡرٗا ﴾ الفرقان: ۵۴ الله تعالى هغه ذات دی چې د اوبو څخه يې انسان منځ ته راووست، نو د هغه (رابطه) يې د ( نورو سره) د نسب اوزوجيت (قرابت) له مخې وتاکله.

دلته دی چې اللهﷻ د تبني( فرزند خوانده گی) قضيه او د اسلام څخه د مخه د جاهليت رسم او رواج چې د انسان د نسب د حق ترمنځ حايل کيده له منځه يووړ او فرمايل: ﴿ وَمَا جَعَلَ أَدۡعِيَآءَكُمۡ أَبۡنَآءَكُمۡ ﴾ الأحزاب: ۴ يعنې: او وبی نه گرځول ستاسی فرزند خوانده گی ستاسی حقيقی زامن». او دارنگه فرمايي: ﴿ ٱدۡعُوهُمۡ لِأٓبَآئِهِمۡ هُوَ أَقۡسَطُ عِندَ ٱللَّهِ ﴾ الأحزاب: ۵ يعنې: هغوی ته نسبت ورکړئ د هغوی پلرونو ته، دا د الله جل جلاله په وړاندې عدالت ته نږدی دی.

**دريم حق ښه نوم درلودل:**

د ماشوم د حقوقو څخه يو هم د ښه نوم درلودل دی، ځکه د نوم پرته د انسان معرفت ممکن نه دی.

همدا راز ممکنه نه ده چې هغه د خپلو حقوقو او امتیازونو برخمن شی. په دې هکله روایت دی: « عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صلی الله علیه وسلم– إِنَّكُمْ تُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَسْمَائِكُمْ وَأَسْمَاءِ آبَائِكُمْ فَأَحْسِنُوا أَسْمَاءَكُمْ». «۴»

**ژباړه**: د أبي الدرداء ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله فرمايلی: تاسو به د قیامت په ورځ په خپلو نومونو او د پلرونو په نومونو غوښتل کیږي، ځکه نو ښه نومونه غوره کړئ.

او د ښه نومونو څخه لکه چې په احادیثو کې راغلي دي هغه دي چې الله ﷻ ته د انسان د بنده ګۍ دلالت وکړي لکه عبد الله، عبدالرحمن... او داسې نور یا د انبیاء عليهم الصلاة والسلام له نومونو څخه وي لکه محمد، ابراهیم، موسی او داسې نور.

**څلورم حق عقیقه**:

عقیقه هم د ماشوم د حقوقو څخه ده چې په عقیقې سره د ماشوم د ولادت څخه لمانځل دي چې پس له ولادت څخه یو پسه ذبح کیږي او د ماشوم د سر ویښتان خریل کیږي او د پسه غوښه لکه د قربانی ویشل کیږي چې ښه ورځ یې اوومه ده چې د نه امکان په صورت کې څوارلسمه او یا یوویشتمه ورځ ګڼل شویده.

**د عقیقې حکم**:

که څه هم دځینو فقهاوو له نظره هغه واجب ګڼل کیږي او په دې نظر دی چې تر څو پسه ذبح نشی واجب د والدینو له ذمی څخه نه ساقط کیږی، اما د جمهورو فقهاوو راجح قول دا دی چې عقیقه په هغه صورت کې چې انسان یې وسه ولری سنت ده او نیته یې د دریو اونیو په منځ کې ده. په دې هکله ( چې عقیقه د ماشوم حق دی) زیات حدیثونه روایت شویدی چې د هغې جملې نه دا روایت هم دی: « عَنِ الْحَسَنِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " الْغُلَامُ مُرْتَهَنٌ بِعَقِيقَتِهِ " أَوْ قَالَ: " بِعَقِيقَةٍ تُذْبَحُ يَوْمَ السَّابِعِ، وَيُحْلَقُ رَأْسُهُ وَيُسَمَّى». «۵» نوی پیدا شوی ماشوم معلق دی د عقیقی تر اداء کولو پورې چې په اوومه ورځ به ذبح شی، د ده ویښتان دې وخریل شي نوم د کیښودل شی.

**پنځم د رضاعت ( شیدو خوړلو) حق دی**:

د کوچني د زیږیدلونه پس لومړنی مهم خوړو ته چې ارتیا لری هغه د مور شیدې دي. مورد شفقت او عاطفی له مخی دی مسؤولیت څخه سر غړونه نکوی او په رضا او رغبت سره دا وجیبه تر سره کوي.

د ماشوم د حق او د میندو د مسؤولیتونو په هکله الله تعالي فرمايي: ﴿ وَٱلْوَٰلِدَٰتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَٰدَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ ۖ لِمَنْ أَرَادَ أَن يُتِمَّ ٱلرَّضَاعَةَ ۚ ﴾ البقرة:۲۳۳
میندی خپلو ماشومانو ته تر دوه کلونو دې شیدې ورکړئ، د هغه چا لپاره چې غواړی د رضاعت موده پوره کړي.

د رضایت موده له دوه پلوه د بحث وړده:

**الف**: د شیدې ورکوونکی او شیدو خوړونکی ( ماشوم) تر منځ د حرمت د ثبوت له پلوه.

**ب**: د ماشوم د حق له پلوه د رضاعت مزد او اجرت.

**د**: حرمت د ثبوت له پلوه د رضاعت د مودې په اړوند فقهاء د نظر اختلاف لري:

۱- د امام ابوحنیفه رحمه الله په وړاندې دوه کاله او شپږ میاشتې ده.

۲- د امام جعفر رحمه الله په وړاندې درې کاله ده.

۳- د صاحبیو او جمهورو فقهاوو له نظره دوه کاله ده.

چې پدې ډول د رضاعت د مودې له پلوه د ماشوم د حق په برخه کې پر دوه کاله د نظرتو افق موجود دی.

د هغې قرینې نه چې په مبارک آیت کې ورته اشاره شویدی داسې ښکاری چې د ماشوم د رضاعت حق دوه کاله دی.

د ﴿ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ ﴾ او د ﴿ وَعَلَى ٱلْمَوْلُودِ لَهُۥ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِٱلْمَعْرُوفِ ۚ ﴾ ذکر نه وروسته داسې تذکر شویدی چې د هغې د رضاعت د اجوری پر وجوب( په هغه ځای کې چې د رضاعت په اجازه سره وي) پر پلرونو تأکید شویدی. چې پس له دوه کلونو پر پلار باندې خوراک او پوښاک په سمه طریقه لازم ګرځول شویدی. دې آیت کریمه نه ښکاره شوه چې د ماشوم د حقونو له جملی نه یو هم د رضاعت حق دی. دلته دا پوښتنه رامنځ ته کیږي چې رضاعت پر مور واجب دی که پر بل چا؟

له دینه چې مور خپل ماشوم ته ډیر نږدی او مهربان انسان دی چې شیدې یې ماشوم ته هم خواږه دي هم درمل، نو چې توان یې ولری دا مکلفیت هغی ته متوجه کیږي. لکه چې په آیت کې ذکر شوی او اشاره هم ورته شویده : « میندی پوره دوه کاله خپلو اولادونو ته شیدې ورکړئ » مګر فقهاء دا وجوب دیني او اخلاقي بولي. په دې برخه کې توپیر نشته چې مورد پلار په نکاح کې وي او یا هم تر منځ یې بیل والي راغلی وي.

ځکه نو که مورد توان درلودلو باوجود انکار وکړي مسئوله او ګنهکاره ګڼل کیږي.

**د قضا له نظره د رضاعت وجوب**:

دا په دې موقوف دی چې آيا مورد پلار په نکاح کې ده او که ترمنځه يې بيل والي راغلی دی.

که چيرې مفارقت يا بيلوالی منځته راغلی وي مورمجبوره کولای نشی بلکې پلار مکلف دی چې بله شيدې ورکونکی ښځه د مزد او اجورې په بدل کې ماشوم ته د شيدو ورکولو لپاره وټاکي.

بايد وويل شي که بله ښځه پيدا نشي او يا ماشوم د بلې ښځې د تي د قبلولو نه انکاروکړي او يا هم پلار د شيدې ورکوونکی ښځې د اجورې د ورکولو توان ونلري نو بيرته دا مکلفيت د ماشوم خپلې مورته راګرځی ځکه که چيرې مور انکاروکړي نو ماشوم کيدای شي له منځه لارشي چې دا عمل مردود او د ماشوم پر حق باندې تيری ګڼل کيږي.

آيا مورکولای شي د خپل ماشوم د رضاعت په بدل کې د ماشوم له پلار څخه مزد واخلي؟

راجح نظر دا دی چې که مورد پلار په عصمت اونکاح کې وی او يا طلاق د عدت په موده کې وی چې نفقه يې پر پلار باندې جاري وي، په دې صورت کې د اجورې مستحق نه ګڼل کيږي ځکه نفقه يې پر پلار جاري ده او که د رضاعت مزد هم پرې کړي نو خاوند يې متضرر کيږي.

که څه هم ځينی فقهاء په دې نظر دي چې که د پلار او مور ترمنځ داسې تړون موجود وي چې د هغې له مخې مورد خپل ماشوم د رضاعت په بدل کې د اجورې غوښتنه وکړي، د هغې مستحق کيدای شي. په هر حال د خاوند توان او رضامندی په پام کې ونيول شي.

که چيرې مورد پلار د عصمت څخه وتلې وي او د عدت موده يې هم تيره شوی وي نو که په دې حالت کې د رضاعت د اجورې غوښتنه وکړی، د هغې مستحقه ګڼل کيږی ځکه په دې حالت کې د يوې پردی ښځې حيثيت لري چې د ماشوم پر پلار باندې د کومې نفقې حق نلري. «۶»

**شپږم دماشوم دتربيت حق**:

روزنه د ماشوم پر مسلم حق دی چې مراد له دينه د ماشوم لارښودنه ده د ديني او دنيوي علوموپه برخه کې تر څو د هغې په رڼا کې ټولنې ته يو نيک او ګټور غړی ور اندې شي.

د ماشوم د زړه او ذهن لوحه لکه د يو سپين کاغذ په څير ده چې هر څه پرې وليکل شي، ماشوم هماغه خوی او عادت خپولي، که چيرې دا روزنه ښه وي نو ماشوم هم غوره انسان منځته راځي او که بد څه پرې وليکل شي نو ماشوم د يو منفور شخص په توګه کورنۍ او ټولنې ته منځته راځي.

د اهل او عيال د مسئوليت په هکله الله ﷻ فرمايي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارٗا ﴾ التحريم: ٦ ای مؤمنانو: ځان او خپل اهل د دوزخ له اوره وژغورئ.

حضرت علي ﷺ د دې مبارک آيت د تفسير په رڼا کې فرمايي: « أدبوهم علموهم ».«۷» خپلو اولادونو ته علم او ادب وښايئ. پيغمبر اکرم ﷺ فرمايي: « أكرموا أولادكم وأحسنوا أدبهم ».«۸» خپلو اولادونو ته اکرام وکړئ او هغوی ته ادب ورزده کړئ. همدا راز فرمايي: « مانحل والد والدا من نحل أفضل من أدب حسن ».«۹» د ادب د زده کړې نه هيڅ غوره هديه د پلار له خوا خپل اولاد ته بله نشته.

**د ماشوم د روزنې اساسي هدف په لاندې ډول دی**:

**الف ـ** د خالق معرفت په ډيره آسانه او روانه طريقه او د هغه د احکامو منل چې د دواړو نړيو د سعادت باعث ګرځي او اجتناب د نواهيو څخه چې ارتکاب يې د دواړه نړيو د بدبختيو باعث ګرځي.

**ب ـ** د والدينو په حقوقو پوهيدل چې د اسلام د مهمو فرايضو څخه ګڼل کيږی او د هغه راتلونکی مکلفيت دی.

**ج ـ** د ښو اخلاقو معرفت او پر هغو التزام او د ناوړه اخلاقو څخه ليری والی.

**د ـ** د ټولنې د غړو د حقوقو معرفت او په راتلونکې کې هغی ته ژمن پاتي کيدل.

**د ماشوم د روزنې وسايل**:

**د ماشوم د روزنې وسايل په درې ډوله دي**:

**۱ـ بدني**: چې د بدن د نظافت، لباس او ځای څخه عبارت دی چې په اسلام کې هم نظافت د ايمان جز ګڼل شويدی.

همدا راز پاک خواړه او د هغه څه نه چې د ماشوم روغتيا ته تاوان رسوي، د هغه ليری ساتل او هم په ورزش او نورو هغه څه باندې د هغه روږدی کول چې صحت ته يې ګټه رسوی.

**۲ـ عقلي**: د ماشوم روږدی کول په هغه څه باندې چې د هغه د عقل او دماغ د پوخوالی ګرځي لکه لوستل د دې الهي ارشاد په دليل سره: ﴿ ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ﴾ العلق: ۱ ولوله د خدای په نوم چې خلق يې پيدا کړي دي.

**ليکل**: ﴿ عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ﴾ هغه ذات چې انسان ته يې پوهه ورمړې د قلم په واسطه.

**تعليم**: ﴿ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ﴾ وي پوهاوه انسان په هغه څه چې نه پوهيده.

په اسلام کې لیکل، لوستل او د علم زده کړه ځانګړې اهمیت لري چې د علم او معرفت غوښتنه د شرعي فرایضو څخه ګڼل کیږي؛ ځکه نو که والدین د دې وجیبې په ترسره کولو کې پاتی راځي او یا ماشوم والدین یا نږدی اقارب ونلري، حکومت په دې برخه کې مکلفیت لري؛ ځکه پادشاه د بی سرپرسته او یتیمو افرادو ولي ګڼل کیږي.

همدا راز د اعلی تربیت د وسایلو څخه د خدای په مخلوقاتو او کائناتو باندې تدبر او فکر کول دي چې په ډېرو قرآني آیاتو کې یې ذکر او تأکید شوی دی لکه دا آیت: ﴿وَيَتَفَكَّرُونَ فِى خَلْقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾ آل عمران: ۱۹۱ « د الله پاک بنده ګان د کائناتو په خلقت او د الله ﷻ د قدرت په هکله فکر او تدبر کوي».

۳- **روحي**: د ماشوم د روحي روزنې وسایل عبارت دی د ماشوم روږدی کول په نیکو اخلاقو، د عباداتو په اداء کولو، په اسلامي ارزښتونو او آدابو باندې التزام کو، د ناپسند اخلاقو او عاداتو څخه لیری والی لکه دروغ، خیانت، غلا او داسې نور.

**اوم د تعلیم حق**:

هغه څه چې د ځان څخه د مشروع په هکله دی او همدا راز د بدني لیاقت تقویه او ورزش او داسې نوردی په اسلام کې مشروع دفاع د یو مسلمان مسلم حق ګڼل کیږي چې په عام ډول لاندیني چارې رانغاړي:

۱ . د دین او عقیدې څخه دفاع چې د جهاد تر مفهوم لاندې د الله ﷻ په لاره کې ترسره کیږي.

۲ . د نفس څخه د فاع.

۳ . د آبرو، عزت او کرامت څخه د فاع.

۴ . په دی هکله حدیث شریف دی چې: « عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ – صلى الله عليه وسلم– قَالَ : « مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ قُتِلَ دُونَ أَهْلِهِ أَوْ دُونَ دَمِهِ أَوْ دُونَ دِينِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ».«۱۰»

**ژباړه**: د سعید بن زید له نبي ﷺ څخه روایت کوي چې وېی فرمایل: « څوک چې دخپل مال ددفاع له کبله ووژل شو هغه شهید دی، او څوک چې د اهل، ځان او د دین د دفاع له کبله ووژل شو هغه شهید دی.»

دا هم په حدیث شریف څخه ثابته ده چې پیغمبر ﷺ د اولادونو په ښوونه او روزنه او د هغوی آشنا کول د آس سپریدلو او تیر اچولو باندې تأکید کړیدی. ځکه نو هر هغه څه چې د انسان د فکر او ذهني ودې یا بدني تربیت یا د ځان، مال، عزت او آبرو څخه د مشروع دفاع لپاره ګټوروي او هغه ته اړتیا لري، د هغه زده کړه او پوهیدل د هغه د مسلمو حقوقو څخه ګڼل کیږي. په دې برخه کې باید تقصیر او اهمال ونشي بلکې د هغې د حصول او تحصیل زمینه بر ابره شي تر څو ماشومان هغې ته لاس رسی پیدا کړي.

**اتم دماشوم حق څخه نظر غوښتنه**:

د ماشوم څخه نظر غوښتنه د تمرین او د هغو د هڅولو پخاطر تر څو په راتلونکې کې وکولای شي د پوخ نظر او رایې خاوند وي دا هم د ماشوم او کوچنې سره د اسلامي شریعت سره سم چلن دی، ماشوم په هر شی کې تمرین ته اړتیا لري تر څو هغه استعداد یې چې الله ﷻ ورکړیدی تقویه او وده وکړي.

دلته دی چې کله دماشوم څخه د کومې موضوع په اړه پوښتنه کیږي هدف د هغه د استعداد سرکوب کول نه بلکې د هغه د استعداد د معلوماتو پوهه او د برداشت څواک وي. کله چې ځواب یې سم وي باید هغه لا زیات تقدیر او تشویق شي تر څو د هغه د ذهني ودې او د زیاتی هڅې او هاند سبب شي او که چیرې ځواب یی سم نه وي، نباید چې د سرزنش سره مخامخ شی بلکې په ډېره مهربانی سره باید لارښوونه ورته وشي تر څو حوصله او همت یې اغیزمن نشي.

په دې هکله یعنې دماشوم د استعداد، معلوماتو او ذهني او فکري ودې په هکله قرآن پاک و ایي: ﴿ ... فَإِنْ ءَانَسْتُم مِّنْهُمْ رُشْدًا فَٱدْفَعُوٓا۟ إِلَيْهِمْ أَمْوَٰلَهُمْ ... ﴾ النساء: ۶ یعني که چیرې تاسو دهغو ( یتیمانو/ کوچنیانو چې پلرونه یې وفات شویوي) پوه احساس کړه؛ نو مالونه یې ورکړئ.

همدا راز اسلام هر ډول کورني تاوتریخوالی منع ګرځولی دی ځکه د موږ په وړاندې تاوتریخوالی چې د ماشوم و اقعي تکیه ځای ګڼل کیږي، د ویری او خوف د فضا باعث ګرځي او پر ماشوم مستقیمه اغیزه لري. په حدیث شریف کې ذکر شوي چې کله به رسول اکرم د ماشوم ژړا واوریدله نو خپل خوړ قر ائت به یې لنډ کړ: « عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ إِنِّي لَأَدْخُلُ فِي الصَّلَاةِ فَأُرِيدُ إِطَالَتَهَا فَأَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فَأَتَجَوَّزُ مِمَّا أَعْلَمُ مِنْ شِدَّةِ وَجْدِ أُمِّهِ مِنْ بُكَائِهِ ».«۱۱»

**ژباړه**: ځیني وخت زه په لمانځه کې داخلیږم غواړم چې لمونځ اوږد کړم؛ نو د ماشوم ژړا مې تر غوږه شي؛ نو لمونځ ( قرأت ) مختصر کړم د هغه له کبله چې زه درک کړم احساس د تکلیف د مورد ژړا د هغه څخه. ادامه لری

**مؤخذونه**:


۱- رواه النسائي، وصححه الألباني.

۲. صحيح البخاري، باب الأكفاء في الدين وقوله ( وهو الذي خلق من الماء بشرا...)، د حديث شميره: ۵۰۹۰.

۳. سنن ابن ماجه، باب الأكفاء، د حديث شميره: ۱۹۶۷.

۴- سنن أبي داود، باب في تغيير الأسماء، د حديث شميره: ۴۹۵۰.

۵- شرح مشكل الآثار للطحاوي، باب بيان مشكل ما روي عن رسول الله صلى الله عليه وسلم، د حديث شميره: ۱۰۴۰.

۶- د علم فقهي ګن شمير کتابونو څخه اخستل شوی.
۷. د ابن کثير تفسير، ۸ ټوک، ۱۶۸ مخ.
۸- سنن ابن ماجه، کتاب الأدب، د حديث شميره: ۳۶۷۱.
۹. سنن الترمذي، باب أدب الولد، د شميره : ۱۹۵۲.
۱۰- سنن أبي داود، باب في قتال اللصوص، د حديث شميره: ۴۷۷۴.
۱۱- صحيح البخاري، باب من أخف الصلاة عند بكاء الصبي، د حديث شميره: ۷۱۰.